په افغانستان

کې د کاناډا ماموریت

www.afghanistan.gc.ca






# د افغانستان بیاجوړونه

## یو نړیوال مشارکت



د افغانستان د بیاجوړولو لپاره د ژمنې په بنسټ د څه د پاسه ۶۰ هېوادونو پوځی او ملکی ډلی سره یو ځای کار کوي.

© SIRPA Terre/ADJ Jean-Raphaël Drahi/Tassal

د داسي یو هېواد بیاجوړول چې په ۳۰ کلنه جګړه کې ویجاړ شوی وي، یوی اوږدمهالی هڅی ته ضرورت لری چې په هغې کې د ډېرو هېوادونو او شریکانو ونډه ضروري ګڼل کېږي. افغانستان ته د کاناډا مرستې د هغو پراخو نړیوالو هڅو یوه برخه ده چې په هغه کې د ۶۰ نه زیات هېوادونه او تطبیقونکي شریکان شامل دي.

په افغانستان کې نړیوال مأموریت په دې برخه کې مرستې برابروي چې د افغانستان حکومت د امنیت، حکومتدارۍ او پرمختیایی کارونو مسوولیت په غاړه واخلي هغه څه چې د ۲۰۱۰ کال د جولای میاشت د کابل په کنفرانس کې د افغانستان حکومت پرې هوکړه کړې وه.

د انتقال د پروسې لومړی ګام د نړیوالو امنیتی ځواکونونو یا آیساف څخه افغان امنیتی ځواکونو ته د مسؤولیتونو انتقالول دی. د افغانستان امنیتی ځواکونو هدف دا دی تر څو د ۲۰۱۴ کال ترپای پورې په ټول افغانستان کې د امنیتی عملیاتو مشري په غاړه واخلي.

په افغانستان کې مهم مرستندوی شریکان په لاندې ډول دي:

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت (یوناما):** یوناما یو سیاسي ماموریت دی چې د افغانستان حکومت په غوښتنه جوړ شوی دی تر څو د دې هېواد د حکومت او خلکو سره مرسته وکړي چې د دوامدارې سولې او پرمختګ بنسټونه کېږدي. یوناما په افغانستان کې د حکومت سره د حکومتدارۍ د مهمو برخو د اصلاح کولو، د اقتصادي ودې او سیمه ایزې همکارۍ په برخو کې د حکومت د هڅو په همغږۍ کې ستره ونډه لري. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د یوناما کاري مأموریت هر کال څارنی لاندې نیسي.

**د ناټو په مشرۍ نړیوال امنیتی ځواکونه (آیساف):** د ملګرو ملتونو د واک لاندې او د افغانستان دولت په ملاتړ، د آیساف ځواکونه په افغانستان کې یو لړ عملیات ترسره کوي تر څو د دولت د مخالفینو وړتیا کمه کړي، د افغان امنیتی ځواکونو وړتیا او ځواک ته وده ورکړي، او د حکومتدارۍ د اصلاح او ټولنیزې اقتصادی ودې ته لاره هواره کړي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د یوناما کاري مأموریت هر کال تر بیا کتنې لاندې نیسي.

**نادولتي مؤسسې:** په افغانستان کې نادولتي مؤسسې د افغان کډوالو سره د مرستو په برابرولو کې، د بیارغونی په برخه کې، د وړتیاوو په لوړولو کې او د بېړنیو مرستو په رسولو کې خورا مهمه ونډه لري. اوس مهال په سلګونو کورنۍ او بهرنۍ نادولتي مؤسسې په افغانستان کې کار کوي.

**نړیوال مالي سازمانونه:** دا سازمانونه لکه نړیوال وجهی صندوق، نړیوال بانک او د آسیا پرمختیایی بانک د افغان حکومت سره د اقتصادي او ټولنیزې ودې لپاره د مهمو پالیسیو په برخه کې سلامشورې او مالي مرستې برابروي.